Share Twittern

ژباړن: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۱۲/۰۵/۲۵

د وژونکوشعاعرانو کلوب

د طالبانو شعري ټولګه

د شپیګل انلاین ویبپانه، لیکوال: حسنین کاظم

هغه څه چې طالبان خپروي شعاعري ده که پروپاګنډ؟
یوې برطانوي مطبعي د طالبانو شعري ټولګه چاپ اوخپره کړه. بنسټپالوسخت دریځوطالبانو په دغه شعري ټولګه کې مینې اود افغانستان ښکلا ته یوه بیه ټاکلې ده. دوی پرته له تبصرې څخه د جګړو، وژنو ،بداوظلم لویدیځ په اړه لیکنې کوي.
دغې منع کړل شوي کتاب خپریدل په لویدیځ کې ډیر قهرجن غبرګونونه راوپارولي دي.
سړي کړی شي ووایي، هرڅه چې د طالبان لخوا خپریږي هغه لوستل کیږي، په ریښتیا سره همداسې ده . دغه لیکنې ددوی د پلویانو لخوا،په تیره بیا لومړی سر کې د استخبارتي شبکو،امنیتي کارپوهانو اوخبریالانو لخوا لوستل کیږي .
دغه لوستونکې غواړي چې د طالبانو فعالیتونه سم درک کړي، کله چې طالبان د بریدونو مسوولیت په غاړه اخلي یا دنړۍ د پیښو په هکله تبصرې نشروي، ترڅو دوی دامنیتي حالاتو جاج واخلي یا خبرونه خپاره کوي. دغه لوستونکې یو شي نه ویني، هغه دطالبانو شعاعري ده.
شعر د سلګونو کالونو راهیسې د مرکزي او سهلي اسیا د کولتور یوه برخه ده .تر ننه د دوی په ورځني ژوند کې د شعرهنر او متلونه ستر رول لوبوي . طالبان هم له شعاعري سره مینه لري . دوی د څو کالونو راهیسې په انترنیت کې د نور و شیایانو تر څنګ شعري مصرې هم خپروي . دوی په شعرونو کې د مینې په اړه لیکنې کوي یا دوی دخپل هیواد دښکلا په اړه لیکنې کوي .
د تعجب خبره ده چې تر اوسه د هیچا لپاره دغه لیکنې او په ام پي درې کې ترانې په زړه پورې نه وي .احتمالاً شاید هیچا په کې رښتنې ارزښت نه وي لیدلې.
الیکس ستریک فون لینشوتین او فیلیکس کوهن دوه ځوان څیړونکې پوهان او لیکوالانو اټکل ۳۰۰ دطالبانو شعري نمونې راټولې کړې. دوی دغو ټوکوسره هغه مهال مخامخ او اشنا شول، کله چې دوی څه باندې درې کاله دافغانستان په سهلي ښار کندهار کې ژوند کاوه او پلټنې کولې . په دغه وخت کې دوی د طالبانو دپخواني سفیر عبدالسلام ضعیف ژوندلیک،او کتاب « زما ژوند د طالبانو سره » پروتوکول کولو ، دوی یو بل کتاب د طالبانو او القاعدد اړیکو په اړه هم لیکلي دی .دامهال دوی ته شعري ټولګه دومره مهمه خبره نه وه.

* ساده توب او ګوټنیوکې د شعر په فورم کې
دوی په پښتو ژبه کې لیکل شوي شعرونه انګرېزي ژبې ته وژباړل،کله چې دوی دچاپ یا نشرونکې مطبعه سره د دغې ټولګې په اړه خبرې وکړي. ناشر وویل هوسمه ده، راځه چې دغه شعرونه چاپ اوخپاره کړو.
د مې میاشتې په اولسمه نیټه د۲۳۵ غوره شوي شعرونو ټولګه (د طالبانو شعاعري) په نامه چاپ شوه . په دغه کتاب کې دخپرونکې او ژباړنکې په اړه مالومات ، په افغانستان کې د شعر ارزښت، همداسې پرته له تبصرې څخه دشعرونه وخت او نور موضوعات په ترتیب سره تنظیم شوي او چاپ ته وړاندې شوي دي.
په دغه شعرونو کې د اتیایمې او نوویمې لسیزو شعرونه هم چاپ دي ،دا مهال طالبان د وسله وال ځواک په څیر راښکاره شوي نه وو. بیا دهغه وخته شعرونه کله چې طالبانو په افغانستان کې واک ترلاسه کړو. سربیره پردې د ۲۰۰۶ څخه تر ۲۰۰۹ کالونو شعرونه، کله چې طالبان دیولسم سپټمبر څخه ورسته د بمباریواو بم مونو په ور ولو سره له واکه وغورځول شول.
ستریک فون لینشوتین او فیلیکس کوهن نورپخواني شعرونه په اخبارنو ،مجلو او کستونوکې موندلي او نوي شعرونه دطالبانو له ویبپانه څخه اخیستي دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځيني شعرونه نه زغومونکي ساده دي، لکه ستا غومبري يا اننګي په پسرلي کي، لکه سره ګلان ، يو شاعر دپوردل بوستان په نامه زمزمه کړي. يا ستا دسترګوبانه هيچکله خپله اغيزه نه خطا کوي کله چي دوی چاته پام اړوي .ځيني بيا ګوتنيوونکي دي، د بيلګي په توګه شاعر د مرستندويه ټولنو له کارکوونکو څخه چي له دوی څخه افغانستان ډک دی ، پوښتنه کوي. « څومر اينجوګاني دلته شته دي، چي د دوی تنخاګاني د وزيرانو څخه هم جګي دي .»
ډير شعرونه جګړيزحماسي اغيزه لري، دميړنتوب ، زړورتوب او توريياليتوب څخه خبري کوي. ځيني بيا د بي رحمه جنګياليو انځور وړاندي کوي ،کوم انځور چي په لويديځ کي خلک له طالبانو څخه لري . ځيني شعرونه د پام وړ ځان ته ګوته نيوونکي دي. لکه په يوشعر کي ويل کيږي. دا يو شرم او بدنامي ده، چي موږ په خپل هيواد کي سرګردانه لالاهانده ګرځو،موږ په خپله د دغو ټول ناخوالو مسوول يو.

* په لويديځ کي سخت قهر جن غبرګونونه
دايواځي شاعري ده، که پروپاګنده؟ دکتاب خپريدوڅخه مخکي ډير نارامه کونکي غبرګونونه راپاريدلي وو. افغانستان کي يوانګرېزي متقاعد پوځي افسر د دغي شعري ټولګي د چاپيدلو په غندنه کي د ګارين ورځپاني ته وايي، ددغو شعرونوچاپيدو سره به طالبان ځان حق په جانبه وګني.
موږاجازه نه لرو له ياده و باسو، دغه خلک وژونوونکي جنايتګاران دي، د ښځو حقونه يي ترپښو لاندي کړي او دوی هغه خلک بي رحمه وژني چي بل نظر يا فکر لري.
انګرېز متقايد افسر وايي، دغي کتاب څخه د لويديځ دښمنان پرته له اړتيا څخه ځانګړي پاملرنه ترلاسه کوي.
دچاپ مطبعه هم د سختوګوتنيوکو لاندي راغلي. دمطبعه مدير ښاغلي مايکل ډوير وايي، دکتاب په اړه ځښت ډير توده بعثونه وشول، ده له ډيرو ناپيژندل شويو کسانو څخه ټيليفونونه تر لاسه کړل .په دغه چاپي مطبعه باندي تور ولګيدو، چي د ترهګروغږ پورته کوي.
دشعري ټولګي دغه دوه خپروونکي په لويديځ کي د قهرجنو غبرګونو په اړه حيران پاتي دي.
زموږ مطلب دادی چي وښيو، طالبان انسانان دي او زموږ په شان احساس ،ويره ، خپګان او غمونو لري. ښاغلي کوهن ووايل.
دی لږ نور وړاندي ځي او وايي، موږ نه غواړو طالبان با ارزښته کړو او يا طالبان محکوم يا متهم کړو، بلکي موږ غواړو « وښيو چي طالبان انسانان دي. » دلسو کالونو دجګړو په ترڅ کي فکرونه هري خوا ته ډير سخت تينګ شوي دي. دا شعرونه دطالبانو يوه بله خوامور ته را ښيي . ظاهراً همدا کافي ده چي خلک را وپراول شي.

داسي مالوميږي دا يومحاسبه شوي کار دی، چي ممنوع شوي کتاب سربيره پردي ټولوخبرو بيا هم خپريږي. دا شک ډير نږدي دی چي خپرونکي مطبعه دټاکل شويو پولو ماتولو سره غواړي د خلکو پام ځانته رااړوي. ولي به ځانګړي توګه اوس، پس له لسو کالونوجګړو،پوځي ماموريت څخه، اوس يودم طالبان نوره د ډيو يا بلاوي په څير نه ښودل کيږي؟
ايا د دي کتاب دچاپ تر شا سياسي موخي پټي دي؟ ځکه هيڅ څوک دا تر پوښتني لاندي نه راولي، چي طالبان انسانان دي. طالبان هغه خلک دي چي په افغانستان کي حکومت رامنځته کړي وو، د دوی حکومت القاعدي ته پناه ورکړي وه. دغه ترهګره شبکه د يولسم د سپتمبر پيښي مسوولیت پرغاړه لري. د دوی د واک لاندي سيموکي خلک سنګسار کيدل،شکنجه کيدل،د انحوني ښونځي تړلي شوي وو اوموزيک منع شوي وو. دغه انسانان تراوسه وژني کوي، خلک يرغمل نيسي، خلک ګواښي.
د غه ګوتنيوکي نه نسبي کيږي، چي سړي د دوی شعرونه پرته له سريزي ، له ګوتنيوکي او تبصروڅخه چاپ کوي؟

* په بنسټ کي دشعرمصرې ړلزونکي دي
په بنسټزه ټوګه د کتاب پيغام سم دی ټول شيان تور او سپين نه دي. دځينو شعرونو منځ زړي ټکان ورکونکي دی. سړي هغه انځور ويني کوم چي د طالبانو څخه لري. نور شعرونه بيا د همدغو خبرو تصديق کوي. دساري په توګه کله چي دوی دشهادت په اړه سندرې وايي او ځانونه په خپله د اسلام سرتيرې نوموي.
په شعرونو کي داسي لوستل کيږي، چي طالبان يا لږ تر لږه د دوی نيمايي هغه انسانان دي، چي دوی دخپلو غمونواو کړاونو په اړه ليکني کوي، دوی د خپلومبارزو او مرګ څخه هم ويره لري او همدغه طالبان بيا د مينې په اړه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

شعرونه هم لیکي. ځیني طالبان ته ښکلا پیژندنه ځانګړي مفهوم او مانا لري. دا ډیرې د احساساتو څخه ډکې جملې دي ، داسي بریښي چې د دوی د احساساتو نړۍ په لویدیځ نړۍ کې تر ډیره بریده نااشنا ده.
په افغانستان کې دطالبانو شعرونه او سندرې هغه افغانان هم په کستونو یا سي ډي ګانو کې اوري، چې د دوی سره مخالفت لري . کوهن وایي. دغه سندري د دوی د کولتور یوه برخه ده. په بله وینا دا ټولې سندرې نورمال دي؟ یقیننآ ناشر یا خپرونکي په ریښتني توګه د هیچ اړخ پلوي نه کوي ،سره له دې چې ناشر او خپرونکي د طالبانوغږ او سندور ته غوږنیونکي مومي .
اما دا ټول شیان د هغو طالبانو کولتوري جنایت نشي تشریع کولي . چې څنګه دوی د خپل واکمنې پرمهال د ۱۹۹۶ څخه تر ۲۰۰۱ کالونو کې موزیمونه لوټ کړل،په سلګونه هنري اثار، لاسي هنري اثار ،انځورنه لمنځه یوړل او د بودامجسمه یې په بمونو والوځوله.
د نیویارک ټایمز مجلې دجګړیزو رپوټونو رسنوال جان لي اندرزون دطالبانود شعرونودغه ټولګه یو خورا مهم کتاب بولي. دی وایي ،دا تر اوسه د زیګو او شلو پیژندل شویو طالبانو یو بل پټ اړخ موږ ته را ښیي. دا شعرونه ښیي چې د طالب جنګیالیو په لیکو کې داسي خلک هم شته ،چې دوی یو ټپي زړ ګي لري. طالبان دشعاعري روح خاوندان دي او د خپلې ژبې سره بې کچه ګرمه مینه.
اما: دا څه مانا لري؟ په تاریخ کې تل بغاوتګر ظالم شعاعرانو شتون درلود. بلا ،ډیو یا مونستر هم کړي شي د ښکلا هنر انسانانوته وړاندې کړي. هرڅوک چې دا شعرونه لولي ، تر اخر پوري نه پوهیږي چې طالبان څوک دي او د څه لپاره جګړه کوي. هغه بلاخره پوهیږي، چې هر چا چې دطالبانو څخه ستري بلاوي ،ډیوان او پیریان جوړ کړي، هغه هم د دوی په اړه ډیر لږ پوهیږي.

پای

تاسو کولي شي د طالبانو شعري ټولګې په دغه کتاب کې ولولي .

Poetry of the Taliban

Der englische Verlag Hurst & Co. bringt



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ